سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۰۷/۲۸

# د جنرال دوستم په راتلو سره د افغانستان نوی سیاسی ځیره

جنرال دوستم د ډاکټر محمد اشرف غنی سره د سیاسی معاملی په نتیجه کی د جمهوری ریاست لومړی مقام لاس ته راوړ. د همدی موقف نه په استفادی سره یی د خپل قومی ملیشا یی ځواک سره شلیدلی خواوی چی د ځینو حریفانو په وړاندی (لکه اکبر بای اونور) د کاملی حکمرانی توان په خپله سیمه کی هم تقریباً له لاسه ورکړی و، بیرته ورغاوه، تر میم یی کړی او د بیا د پاره یی په پښو ودراوه.

کله چی د متحده ایالاتو د وخت د بهرنیو چارو وزیر ښاغلی جاکیری د ۲۰۱۴ ز کال د ټاکنو د کړ کیچ نه په ګټی اخستنی سره د ملی وحدت تر نامه لاندی د غنی ـ عبدالله دوه سری حکومت را منځ ته کړ، نو عملاً یی هیواد د اساسی قانون او نورو منلو ملی کودونه په خلاف د افغانستان په دننه کی د یوی داسی بی ثباتی د پاره زمینه را برابره کړه چی د هیواد هر زور واکی پکی د خپل زور دازمایلو د پاره د قوم، ژبی، سمت، مذهب او شخصی ګټو د تامین په غرض میدان ته را ودانګل . هر شخص او په هغه پوری تړلی ډلی د ملی منافعو په لوټ او تالان کی چی د بنسټ ډیره یی د طالبانو تر سقوط وروسته د بن په نیمګړی غونډه کی ایښودل شوی وه، او د خان صاحب حامد کرزی د واکمنی په ټوله اوږده دوره کی یی د هیواد ټوله سیاسی ـ اقتصادی فضا په بر کی نیولې وه دقانون د نشتوالی له کبله لا پسی پراخه کړه.

له بده مرغه په همدی وخت کومی غربی موسسی اعلان وکړ چی ډاکټر محمد اشرف غنی د نړی دویم لوی متفکر دی، د ا اعلان نه یو غم و، او لکه څنګه چی خان صاحب حامد کرزی ته کومی د جامو جوړولو کمپنی د ( مرد خوش لباس پوش) لقب ورکړی و او د تل د پاره یی هغه په چپنه کی نغښتی و ساته همداسی یی ډاکټر غنی هم داسی درجی ته ورساوه چی ، نور د دی لقب په ګټلو سره د هیچا ( نه د وزیر، نه د وکیل او نه د مشاور) مشوری ته اړتیا نه لری او هرڅه چی کوی هغه سم دی.

جنرال دوستم د همدی خلا نه په ګټی اخستنی سره د هیواد شمال ته د طالبانو د زپلو په نوم چی په هیڅ وجه یی د ده رسمی وظایفو د لایحی سره اړخ نه لګاوه ولاړه او هلته یی په ځینو شمالی و لایاتو لکه، جوزجان، فاریاب، سرپل، سمنګان او نورو کی د اوږدی مودی د پاره په لاندی دری ساحو کی پیاوړی ګامونه پورته کړل:

۱ ـ په دولتی مصارفو سره یی خپلی پاشانی قواوی له سره را منظمی کړی.

۲ـ په دی ټولو ولایتونو کی پښتانه په شدت سره و زپل.

۳ـ په هر ځای کی خپل مخالین برطرف او خپل کسان یی په دولتی مقاماتو کی ځای په ځای کړل.

داچی د ده او د احمد ایشچی تر منځ څه پیښه وشوه چی سره برخلاف شول او په نتیجه کی د ایشچی سره د هغه زیاتی له کبله چی د دوستم په قومانده ورسره تر سره شوی و، ایشچی د هیواد د قانونی او عدلی مقاماتو نه د خپل حق او د عدالت او انصاف غوښتونکی شو. ډاکټر غنی هم د دی مسئلی د عدلی تعقیب سره موافقه وکړه ، خو دوستم دا دځان په وړاندی یوه دسیسه وګڼله او د هیواد نه ووت.

خبره تر کلونو وغزیده ډیری پټی جرګی مرکی وشوی خو دوستم د عبدلی تعقیب له ویری هیواد ته را نغی او پړه یی په غنی ور اچوله چی ما کارته نه پریدی.

کله چی غنی د عطا نور استعفی منظور کړه او هغه یی د ولایت نه ګوښه کړ هغه بغاوت وکه او د جمهور رئس په توګه یی د غنی د صلاحیت نه د خپلی دندی ګوښه کیدل لوړ وګڼل. د دی کشمکش نه د هیواد په هغه غیر قانونی پارلمان کی چی د ښاغلی غنی په نا قانونه فرمان تر اوسه لا په پوره صلاحیت سره کار کوی ( څلورکلنه دوره یی اتو کلو ته و غزول شوه) یو شمیر هغه وکیلانو چی د خان صاحب کرزی د وخت د چور چپاول نه یی لاسونه قسماً لنډ شوی وو او یا هغه لوړ رتبه مامورین چی خپلی چوکی یی له لاسه ور کړی وی یو بل ته ور نژدی شول او د غنی د اداری په وړاندی یی د بغاوت جنډی پورته کړی. لنده داچی جنرال دوستم د ازبیک افغانانو په مشری ( چی مشر یی نه دی) عطا نور د تاجیکو افغانانو په مشری (چی مشر یی نه دی)، حاجی محمد محقق د هزاره افغانانو په مشری ( چی مشریی نه دی)، د ترکی په هیواد کی د غنی په مشرتوب، د دوه سری دولت سره په علنی توګه خپل مخالفت اعلان کړ او یوه متحده جبهه یی د غنی د دولت د سقوط د پاره جوړه کړه. دی ایتلاف سره نور له چور چپاول د صحنی وتلی اشخاص لکه ښاغلی د افغان ملت د ګوند پخوانی مشر ډاکټر احدی او یو څو تنه نور د ناقانونه ولسی جرګی و کیلان او ټوپکماران هم دی اړدوړ کی ور شریک شول.

غنی په همدی لنډو تیرو څو میاشتو کی د الکترونیکی تذکرو د ویش لړۍ را پیل کړه چی نتیجه لا پوره معلومه نه ده خو، یوه نتیجه یی دا شوه چی د لطیف پدرام په مشرۍ نه یوائی د افغان د کلمی سره علنی مخالفت وشو بلکی په ښکاره توګه یا د افغانستان د دولت د نوم تغیر د (خُراسان) په نوم او یا هم د افغانستان د تجزیه کیدو د پاره د خطر زنګونه په څرګنده توګه و کړنګیدل. پاتی په دویمه برخه کی

جمهوررئیس غنی په دی تیرو څو شپو ورځ کی د ځینو زورواکانو اوبی مسؤلیته وسله والو اشخاصو ته د اخطار ورکولو نه وروسته په شمال کی د دوستم باصلاحیته نماینده او ځای ناستی نظام الدی قیصاری ونیوه او کابل ته یی راوست. د دی پیښی سره سم د هیواد په شمال کی نارامیو زور واخست، مظاهری او مارشونه پیل شول، تجارتی بندرونه بند شول او دولتی دستګاه تقریباً د سقوط سره مخامخ شوه.

غنی بیا لاس په کار شو او بلاخره و توانیده چی یا د ګلبدین حکمتیار او یا هم په کومه بله وسیله جنرال دوستم دی ته قانع کړ چی وطن ته را شی او خپله وظیفه د ټولو حقوقو سره پر مخ یوسی.

د کابل هوایی ډګر ته د دوستم د رارسیدو سره سم یی ټول ایتلافی ملګری او هغه کسان چی ګټی یی د لاسه ورکړی وی او یا د وظیفو نه شړل شوی وو، ټول هرکلی ته ورغلل او ښه تود هرکلی ورته و وایه د جمهو

رړئیس د غوښتنې خلاف چی د دوستم به د دولت ضد ایتلاف نه ځان را وباسی ، پرون او وړمه ورځ په دوستم باندی د خان صاحب کرزی په مشری د عطا نور، محقق او احدی په شمول د ګڼ شمیرنور مفسیدینو را ټولیدلو دا په ګوته کړه چی دا زاړه مفسیدین به هم په راروانو پارلمانی ټاکنو کی او هم د راتلونکی کال د جمهوری ریاست په ټول ټاکنو کی د ښاغلی غنی او د هغه د ډلی په مقابله کی میدان ته را دانګی او زیار به کاږی چی په هره ممکنه وسیله وی یو ځل بیا دولتی قدرت تر د لاسه کړی او خپلی د چور او چپاول نیمګړی پروژی پای ته ورسوی.

متل دی چی وایی (خرې د برګې نه کم نه دی) د ښاغلی غنی ډله هم لاس تر زنی نه ده ناسته او لا د اوسه نه یی په کار پیل کړی چی خپل ټول دولتی زور په کار واچوی او هم په راتلونکی پارلمان کی لویه ونډه و لری او هم د بل ځل د پاره د جمهوری ریاست چوکۍ خو دا کرت بی له شراکته په خپل واک کی ولری.

زما په اند دا لوبه داسی روانه ده چی د افغانستان ټوله سیاسی جغرافیه په دوه ټیمونو کی چی یو به د کرزی په مشری د دوستم، عطا، محقق، احدی او نورو زړو مفسیدینو ټیم وی او بل به د غنی په مشرۍ، د حکمتیار، اتمر او ستانکزی او نورو نوی د دقدرت په خوند د پوه شوو ټیم وی، سره را و نغاړل شی او بی له دی چی دی وطن ته سوله راشی، د فساد مخنیوی وشی، د مخدره موادو او انسانی قاچاق سره مبارزه وشی، د ځوان نسل د بیکارۍ د پاره ګام پورته شی او په مجموع کی د یوه آزاد، آباد او بی تمی افغانستان د جوړیدو د پاره کار وشی، په لسګونو کاله نور به هم دا مفسدې طفیلی ډلی د خپلو خارجی دوستانو او د جاسوسي د سازمانونه په مرسته د دی ملت په اوږو سپاره او د ژوری په شان به یی د بدن ويني وزبیښی.

د دی حالت نه د راوتلو د پاره یا د میرویس نیکه، یا د احمدشاه بابا ، یا دامیر عبدالرحمن خان او یایی د لمسی غازی امیر امان الله خان په څیر یو زعیم ته اړتیاده چی دا بی وسی او زپل شوی ملت د دی ډاکوانو له پنجو نه وژغوری. داچی کله به دا هیله تر سره کیږی یو الله ج پوهیږی او بس. پای